د افغـــانستان اســـلامي امارت

د لـــوړو زده کـــــــړو وزارت

وردګ د لوړو زده کړو مؤســسه

د شــرعيــاتـــو پـوهـنـځي رياست

# د شرعياتو پوهنځي کتلاک

کال:

1446/04/08

1403/07/21

## سریزه:

**الحمدلله الذي علم الانسان ما لم يعلم والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله واصحابه اجمعين.**

د میدان وردګ ولایت سیمه په تاریخي لحاظ د علم او ادب سیمه وه او ده، د دې سیمې د وګړو د ژوندانه عمده برخه په تعلیم، تحصیل او علمي خدماتو مشتمله ده، د دې سیمې وګړي که څه هم له اقتصادي لحاظه کمزوري دي خو د خپلو نسلونو او اولادونو په علم او تحصیل کې هېڅ نیمګړتیا نه پرېږدي او هغوی ته د زده کړو زمینه برابروي؛ له همدې امله یې ټولنه په اجتماعي، دیني او اخلاقي معیارونو سمبال ده، همدا د علم برکت دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې د وخت د طاغوتي نظامونو په وړاندې په زغرده مبارزه کړې ده او په دې لاره کې یې قربانۍ او سربښندنې بې مثاله دي، خو سره د دې ټولو ځانګړنو د دې سېمې خلکو ته د پام وړ خدمت نه دی شوی او تل له پامه غورځول شوي. خلک یې علم پاله دي، خو د پام وړ علمي مرکزونه نه لري. په هېواد کې د اسلامي امارت له بریا وروسته د اسلامي امارت مشرانو دغې سیسمې ته څه ناڅه توجه وکړه، په دې ورستیو کې د اسلامي امارت له لورې یو شمېر مدرسې رسمي شوې، د ولایت په کچه جهادي مدرسه جوړه او ترڅنګ یې په وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه کې د شرعیاتو پوهنځي هم ایجاد شو. یادو لاسته راوړنو داسې هیلې را ټوکولې دي چې له دې وروسته به دغه سیمه د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې او په ځانګړي توګه د شرعیاتو پوهنځي پر مټ د علمي اصلاحاتو او خدمتونو مرکز شي.

## د شرعیاتو پوهنځي د رئیس پیغام

الحمدلله وحده، والصلوة والسلام علی من لانبی بعده ولا رسول بعده وهو خاتم النبیین.

اما بعد! یرفع الله الذین آمنو منکم والذین أوتو العلم درجات والله بما تعملون خبیر. (المجادله: 11)

د پروردگار د لوی نعمت شاکرین یو چې د یو اسلامي نظام او شرعي عدالت په فضاء کې د افغانستان اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب هبة الله حفظه الله تعالی ورعاه تر رهبری او قیادت لاندې او د لوړو زده کړو محترم وزارت ترسالمي سرپرستۍ او مدیریت لاندې د شرعیاتو پوهنځی د اسلامي اصولو او قوانینو په چوکاټ کې خپل علمي او اکاډمیک فعالیت په پوره اخلاص او صداقت سره ترسره کوي، چې تر ټولو مهم او اساسي هدف یې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې په لوړ کیفیت، متوازنه او عادلانه توګه په علمي تخصصي او مسلکي برخو کي د استعدادونو روزل، ارزول او د هغوی د علمي او مسلکي وړتیاوو لوړول بلل کیږ.

داچې شرعي علوم په دارینو کی د سعادت او نېکمرغۍ وسیله ده، نو زده کول یې اسلامي وجیبه ده، د لوړو زده کړو په حاصلولو او تر لاسه کولو کې زموږ مسؤلیت فردي نه بلکې ټولیز دی او د دې مسؤلیت د حق اداینې په پار باید پلرونه، میندې او د ټولني هر وګړی خپل مسؤلیت په پوره امانتدارۍ سره اداکړي، ترڅو اسلامي- افغاني ټولنه د علم او یو باثباته سولییز پرمختګ لورته سوق او وخوځیږي.

د شرعياتو پوهنځي په راتلونکي نژدې وختونو کې د الله جل جلاله په نصرت او مرسته او د باتجربه استادانو په همکارۍ او زيار ټولنې ته باعلمه، متدين، مجاهد صورتاً او سيرتاً د ښو صفاتو درلودونکي کادرونه وړاندې کړي ترڅو د جامعې او اسلامي نظام، اسلامي ارزښتونه او ضرورتونه پوره کړي او د باثباته اسلامي افغانستان او ټولنې لپاره مفيد او نافع واقع شي.

الله جل جلاله دې زموږ د فدايانو، شهيدانو لويه او درنه سرښندنه او قرباني په خپل لوی دربار کې قبوله کړي او موږ د الله جل جلاله د دين، قانون او اسلامي نظام د ارزښتونو او د خپلو فدايانو او شهيدانو د آرمانونو او غوښتنو سره وفادار او ثابت القدم کړي.

د شرعياتو پوهنځي رئيس

شيخ الحديث مولوي عبدالباري (رحماني)

## د شرعياتو پوهنځي تاريخچه


وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې د شرعياتو پوهنځی په ۱۴۰۱هـ ش کال کې د لوړو زده کړو وزارت په وړانديز او د رياست الوزراء د (۱۳۵ ج ۱) ۱۴۴۳/۸/۲٦ نيټې حکم په اساس د دوو څانگو (فقه او قانون او اسلامي تعليمات) په لرلو سره منظور شو.

ياد پوهنځي په ۱۴۰۲ کال کې په فعال پيل وکړ، اوسمهال ۱۹ تنه تشکيل لري، چي ۱۴ تنه يې کادري او پاتې نور يې اداري غړي دي، چې د پوهنځي رئيس، د تدريسي چارو عمومي مدير، اجرائيه مدير، د کتابتون مدير او جنسي

معتمد شامل دي. پر دې سربېره دغه پوهنځی تر دې مهاله ۱۸۵تنه محصلین لري، چې په دوو دیپارتمنتونو کې په زده کړو بوخت دي.
شرعیاتو پوهنځي د کیفیت لوړاوي آمریت تر چتر لاندې ۱۱ کمېټې جوړې کړې دي، چې د کیفیت د ښه والي لپاره به په دوامداره توګه کارونه سرته رسوي، چې عبارت دي له:

1. د د کیفیت لوړاوي کمېټه
2. د نصاب کمیټه
3. د ستراتیژیک پلان کمېټه
4. د ازموینو کمیټه
5. د مالي چارو او سپورت کمیټه
6. د څیړنو کمیټه
7. د نظم او دسپلین کمیټه
8. د نشراتو کمیټه
9. د الکترونیکي زده کړوه کمېټه
10. د کړنو د څار او ارزونې کمېټه
11. د دعوت او ارشاد کمېټه

# د شرعياتو پوهنځی تشکيلاتي چارت



## د شرعیاتو پوهنځي لرلید، رسالت، موخې او امکانات يې

## لرلید:

د شرعیاتو پوهنځی په پام کې لري چې د اسلامي او ملي ارزښتونو پر بنسټ د شرعي او ملي قوانینو په رڼا کې متخصص او وړ کادرونه وروزي او همداراز د هېواد او سیمې په کچه د یو دیني علمي مرکز په توګه وپېژندل شي.

## رسالت:

شرعیاتو پوهنځی د یو دیني او علمي مرکز په توګه علمي، متخصص او په شرعي علومو سمبال کادرونه ټولنې ته وړاندې کوي، د شریعت د کلي قواعدو څخه د معاصرو فقهي مسائلو تحقیق کوي او اسلامي ارزښتونه تشریح او نشروي.

## موخې:

- د خپلې ټولنې د ټولو شرعي او ټولنیزو اړتیاوو په نظر کې نیولو سره متدین، په علمي ګاڼه سمبال، وړ او مسلکي کادرونه روزي.
- د تقنین،قضاء او افتاء په برخه کې د یوې قوي،دیني مرجع په توګه ژمن مسلکي کادرونه وړاندې کوي.
- د تعلیم او تحصیل اړوند اداراتو لپاره مسلکي ښوونکي او استادان روزي چې وکولای شي د هېواد راتلونکي بچیان په دیانت، مسلکي پوهه او د هېواد د سوکالۍ او پرمختګ په روحیه سمبال کړي.

- د ټولنې د سالمې رهبرۍ لپاره د متدینو او زیار ایستونکو زعامتونو او قیادتونو وړاندې کوي.
- د شرعي مسائلو څېړنیزو مرکزونو ته د داسې څېړونکو روزنه چې د ټولنې د اوسمهال اړتیاوې او وړتیاوې په معیاري پوهنیزو طریقو سره تشخیص او حل کړي.
- دیني، فرهنګي او ملي روحیه پیاوړې کوې او د هر ډول تبعیض سره مبارزه کوي.

**امکانات:**

- ژمن، تجربه لرونکي او متخصص استادان چې د ماسټرۍ او لیسانس درجې لري
- په عصري آسانتیاوو سمبال ټولګي
- د تدریس په بهیر کې د معاصرو وسایلو د کارولو لپاره تخنیکي آسانتیاوې
- د زده کونکو لپاره د باکیفیته او وړیا انټرنېټ آسانتیاوې
- د یو ښه مجهز کتابتون شتون چې کافي اندازه تخصصي کتابونه لري.
- د کمپیوټر لب شتون.
- د برېښنا منظم سیستم شتون چې په درسي بهیر کې په ښه توګه د لاسرسي وړ دی.
- د عصري او معاصرو میتودونو سره سم د درسونو ارائیه کول.
- زده کونکو ته د استادانو سره د دوامدار لیدنو کتنو آسانتیا رامنځته کول.
- د محصلینو لپاره د عملي کارونو امکانات رامنځته کول

## د شرعیاتو پوهنځي د رئیس لنډه پېژندنه

شیخ مولوي عبدالباري رحماني د شیخ مولوي عبدالرحمن رحماني زوی د شیخ القرآن ولحدیث مرحوم مولوي ګل نبي لمسی د میدان وردګ ولایت د دایمیرداد ولسوالۍ د رشید کلي په یوه متدین او علمي کورنۍ کې په ۱۳۵۲ هـ ش کال د جنګابڼ د میاشتې په ۲۷ نیټه سترګې دنیا ته وغړولې، ابتدایي زده کړې یې د خپل پلار او د مسجد د امام څخه پیل کړې، ورسته یې بیا فنون په مختلفو دیني مدارسو کې تکمیل کړې بیا د ثانوي زده کړو لپاره ګاونډې هیواد پاکستان ته سفر وکړ هلته یې د قرانکریم تفسیر او ترجمه د شاه منصور په تعلیم القرآن مدرسه کې وکړه، عالیه دوه یې د ترنزئي په مدرسه کې د شیخ القران ولحدیث محمد ادریس صاحب سره تر سره کړه او عالمیه دوره یې په سراج الاسلام دیني مدرسه کې سرته ورسوله، او بیا یې ۱۴۰۲ کې د علماوو په عمومي آزموینه کې ګډون وکړ چې په اعلي درجه بریالی شو، د ژوند په مختلفو پړاونو کې یې ۲۸ کاله د تدریس مقدسه دنده په ډیره حوصله او د ژوند په سختو شرایطو کې د خپلې ولسوالۍ په مختلفو دیني مدارسو کې تر سره کړې چې یو زیات شمیر مدرسینو علماوو دده نه دیني زده کړې کړې دي، او د تدریس ترڅنګ ده دوه دیني کتابونه هم لیکلي چې لا تر اوسه چاپ شوي نه دي، او د خپل پلار سره یې د هغو تالیف شوو کتابون په تصحیح او چاپ کې له حده زیاته مرسته کړي ده، او ۳۰ کاله یې په خپله منطقه کې د تدریس ترڅنګ په مختلفو مساجدو کې د امامت مقدسه دنده په ډیر صداقت او امانت دارۍ تر سره کړې ده.

او په ۱۴۰۲ کال د سنبلې په میاشت په وردګ پوهنتون کې د شرعیاتو پوهنځي د رئیس په حیث وټاکل شو چې اوس مهال هم د رئیس په توګه خپله دنده په یاده پوهنځي کې تر سره کوي.

## د شرعیاتو پوهنځي د استادانو لنډه پېژندنه

### شیخ مولوي صفت الله حقانی

شیخ مولوي صفت الله حقاني د الحاج مولوي حبیب الله زوی، د وردګ ولایت، جغتو ولسوالۍ د آدینه د کلي اوسېدونکی دی، لومړنۍ زده کړې یې د خپلې سیمې له مشهورو علماوو سره پیل کړې، خو د ثانویه زده کړو لپاره یې ګاونډي هېواد پاکستان ته هجرت وکړ، د هجرت پر مهال یې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه، د وړې دورې زده کړې یې د حقانیې په دارالعلوم کې ترسره کړې، د وړې دورې له بشپړولو وروسته یې په همدغه دارالعلوم کې لویه دوره پیل کړه او ۱۴۱۹ هـ ق کال کې یې د لویې دورې درسونه بشپړ او هېواد ته راستون شو. هېواد ته له راستنېدو وروسته یې د میدان وردګ ولایت په بېلابېلو مدارسو کې د تدریس مقدسه دنده پرمخ وړې ده. پر هېواد د امریکایي یرغلګرو تر ولکې وروسته یې د تدریس ترڅنګ په عملي جهاد کې ونډه واخیسته او د امریکائي یرغلګرو تر ماتې پورې یې د تدریس، دعوت او جهاد په چارو کې ونډه واخیسته. شیخ صفت الله حقاني په هېواد کې د اسلامي امارت له بریالي کېدو وروسته په ۱۴۰۲ کال کې د لوړو زده کړو وزارت د لزوم دید په اساس د وردګ پوهنتون د رئیس په توګه وټاکل شو.
هغه په وردګ پوهنتون کې تر ګمارنې وروسته په علمي او زیربنائی برخو کې

د وردگ پوهنتون پراختیا ته ځانګړې پاملرنه وکړه. شیخ حقاني په لړه موده کې د پوهنتون لپاره د پام وړ خدمتونه ترسره کړل، د پوهنتون اداري او علمي برخې یې راژوندۍ کړې، په دواړو علمي او اداري برخو کې تشکیلاتو پراختیا موندلې، د پوهنځیو او دیپارتمنتونو شمېر زیات شو، د محصلینو د جذب ظرفیت د مخکنیو کلونو په نسبت څو چنده لوړ شو، د پوهنتون له ۵۰۰ جریبه ځمکې څخه د احاطې چار بشپړې شوې، د کرنې پوهنځي لپاره تحقیقاتي فارم جوړ شو، پوهنتون د ښاري برېښنا له شبکې سره وصل شو، د څېړنیز مرکز ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. چاپخانه او کانتین جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د پوهنتون د سړکونو، پلونو او سېل لارو د جوړولو او پخولو چارې تر کار لاندې دي، د اداري تجهیزاتو په برخه کې یې د دغه پوهنتون ستونزې اوارې او د طبیعي علومو په برخه کې د دغه پوهنتون علمي مجلې دوې ګڼې یې خپرې کړې، پر دې سربېره شیخ حقاني د وردګ پوهنتون لپاره د پام وړ لاسته راوړنې لري، چې د ټولو یادول یې د دې لیکنې له حوصلې وتلي دي، شیخ حقاني په ۱۴۰۳ کال کې د شرعیاتو پوهنځي په اړتیا ته په کتو سره د اسلامي تعلیماتو د څانګې علمي کادر ته شامل شو او سمدلاسه په یاده څانګه کې د علمي کادر د غړیتوب ترڅنګ د پوهنتون د ریاست دنده هم پرغاړه لري.

**د نوماند پوهنیار انعام الله حنیف لنډه پېژندنه**

انعام اللّٰه حنیف د محمد اسحاق زوی چې په ۱۳۷۵ ه ش کال د ورگ ولایت چک ولسوالۍ د نېک پایقول محمود قلعې په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د خپل مسجد له ملا امام څخه پیل کړې او د ینې زده کړې یې د خپل پلار سره بشپړې کړې، د دې ترڅنګ یې د نېک پایقول درې په نورالمدارس عالي لېسه کې تر دولسم ټولګي پورې زده کړې کړې دي، چې په ۱۳۹۵ ه ش کال کې له همدې لېسې څخه فارغ او په همدې کال د کانکور آزموینې له لارې د کندهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي اسلامي تعلیماتو څانګې ته بریالی شو. په ۱۴۰۰ هـ ش کال کې د کندهار پوهنتون له شرعیاتو پوهنځي څخه په کادري درجه فارغ شو او په ۱۴۰۱ه ش کال کې د آزاد رقابت له لارې د وردګ پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي تعلیماتو په څانګه کې د علمي کادر د غړي په توګه مقررشو. په ۱۴۰۲ کال کې د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي تعلمیاتو د دیپارتمنت آمریت ورته وسپارل شو، چې خپله دنده یې په بشپړ بریالیتوب سره ترسره کړه او په ۱۴۰۳ کال هـ ش کال کې د وردګ پوهنتون د مشرتابه له لوري د کابل ښوونې او

روزنې پوهنتون، د اسلامي تعلیماتو پوهنځي په تفسیر څانګه کې ماسترۍ برنامې ته معرفي شوی او په خپلو زده کړو بوخت دی.

### د نوماند پوهنیارګلاب الدین حقیار لنډه پېژندنه

ګلاب الدین (حقیار) دحاجي نبي جان زوی دی، چې په ۱۳۵۷ کال کې د لغمان ولایت د دولت شاه ولسوالي د چکلا درې په ناله کلي زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په ۱۳٦۵هـ ش کال کې د لغمان ولایت په رسامي عالي لیسته کې بشپړې کړې دي. ثانویه زده کړه یې تر لویې دورې، تخصص في الفقه والقضاء پورې په پاکستان کې ترسره کړې دي او په ۱۳۸۵هـ ش کال کې یې له وفاق المدارس څخه د فراغت سند ترلاسه کړی دی. حقیار صاحب په ۱۴۰۱ کې د آزاد رقابت له لارې وردګ پوهنتون ته د علمي کادر غړیتوب تر لاسه کړ او تر دې مهاله د شرعیاتوپوهنځي د اسلامي ثقافت په برخه کې د استاد په توګه دنده مخکې وړي.

### د نوماند پوهنیار بشیر احمد حقاني لنډه پېژندنه

بشیر احمد حقاني د محمد شیر زوی دی، چې په ۱۳٦۳ هـ ش کال د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ په تنګي غارو کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار څخه پیل کړې او وروسته یې بیا خپلو دیني اوسیاسي زده کړو ته دوام ورکړ چې د ینې زده کړې یې د خپلې سیمې له علماوو سره د دریمې درجې تر مرحلې پورې ورسولې او پاتې درجې، وړه او لویه دوره یې ګاونډي هېواد پاکستان کې ترسره کړې او په ۱۳۸۸هـ ش کال د اکوړه خټک

د دارالعلوم حقانیه څخه فارغ شو. په ۱۳۹٦ هـ ش کال کې د کانکور آزموینې له لارې د مستقبل د لوړو زده کړومؤسسې د حقوق پوهنځي د قضاء او څارنوالی څانگې ته بریالی شو او له یاد پوهنتون څخه په ۱۳۹۹ هـ ش کال کې فارغ شو. په ۱۴۰۱ کال کې د آزاد رقابت له لارې د وردگ پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي ثقافت په څانگه کې د علمي کادر غړیتوب ترلاسه کړ او تر دې مهاله د تدریس په مقدسه دنده بوخت دی.

## د نوماند پوهنیار فرید الله وحدت لنډه پېژندنه

فرید الله وحدت د حمد الله زوی په ۱۳۷۲هـ ش کال د میدان وردگ ولایت چک ولسوالۍ د گوډه ابراهیم خیلو په کلي کې زیږدلی دی، خپلې لومړنۍ او ثانویه زده کړې یې په خپله سیمه کې له خپل پلار او نور علماوو څخه ترسره کړې دي. په ۱۳۹۵ کال کې د ننگرهار پوهنتون له شرعیاتو پوهنځي څخه فارغ شوی دی. د لیسانس په کچه د زده کړو تر څنگ یې په مختلفو دیني مدرسو کې هم زده کړې ترسره کړې دي، لویه دوره یې په ۱۴۰۲هـ ش کال د میدان وردگ ولایت په جهادي مدرسې کې بشپړه کړه او په ممتازه درجه فارغ شو. د پوهنتون له فراغت وروسته په مختلفو مدرسو او دار العلومونو کې استاد پاتې شوی او د استادۍ له مقدسې دندې سره د زیاتې مینې له امله په ۱۴۰۲ کال کې د آزاد رقابت له لارې د وردگ پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي تعلیماتو په څانگه کې د علمي کادر د غړي په توگه مقرر شو او په همدغه پوهنتون کې په زده کړو بوخت دی.

## د نوماند پوهنیار شفیع الله سعیدي لنډه پېژندنه

نوماند پوهنیار شفیع الله سعیدي د مولوي محمد سعید زوی په ۱۳٦٥ ه ش کال کې په میدان وردګ ولایت کې زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې له خپل پلار او ثانوي زده کړې یې په مختلفو مدارسو کې تر سره کړې دي. په ۱۳۹۲ هـ ش کال کې د ننګرهار پوهنتون، د شرعیاتو پوهنځي له فقه قانون څانګې څخه فارغ شوی دی. د وړې او لویې دورې درسونه یې د ۱۳۹٥ او ۱۳۹٦ کلونو ترمنځ د غزني ولایت د حضرت سعد بن معاذ رضی الله تعالی عنه په مدرسه کې پای ته رسولي دي.

له ۱۳۹٦ کال څخه تر ۱۴۰۰ کال پورې یې په شهادت عالي دارالعلوم کې د استاد په صفت دنده ترسره کړې د او له ۱۴۰۲ هـ کال راهیسې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې د علمي کادر غړی دی. ښاغلی سعیدي په ۱۴۰۲ کال کې د د وردګ پوهنتون د مشرتابه له غوښتنې سره سم د فقه او قانون څانګې د آمر به توګه دنده ترسره کوي.

## د نوماند پوهنیارعبدالمجید حقیار لنډه پېژندنه

نوماند پوهنیار عبدالمجید حقیار دالحاج عبدالحبیب همت زوی د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ اوسېدونکی دی، په ۱۳٦۷ ه ش کال د روسانو د یرغل په وخت کی په دار الهجرة پاکستان کې زیږېدلی دی. ابتدایي زده کړې یې د چهار آسیاب ولسوالۍ د ابوزر غفار رضی الله عنه په مدرسه کې تر شپږم ټولګي پورې سرته رسولې دي. وروسته د موسهي ولسوالۍ د موسهي علیاء له

عالي ليسى نه په ۱۳۸۵ ه ش کال کې فارغ او د کانکور د آزموینی له لارې د ننگرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي ته بریالی اوپه ۱۳۹۰ کال کې د یاد پوهنځي د اسلامي تعلیماتو څانگې څخه فارغ شوی دی، تر فراغت وروسته یې دیني درسونو ته دوام ورکړ او په ۱۳۹۴ ه ش کال د امام بخاري رحمة الله له مدرسې څخه د لوېې دورې (عالمیه) سند ترلاسه کړ.

د۱۳۹۲ هـ ش کال نه تر۱۴۰۲ هـ ش کال پورې د لوگر په عالي دارالمعلمین کې یې د استاد په حیث د نده ترسره کړې او په ۱۴۰۲ هـ ش کال کې د آزاد رقابت له لارې د وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې، د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانگې کادري عضویت تر لاسه کړ او تر دې مهاله په یاده څانگه کې خدمت ترسره کوي.

## د نوماند پوهنیار عبدالطیف عثمان لنډه پېژندنه

عبدالطیف د عبدالمالک زوی چې په ۱۳۷۲ ه ش کال کې د ورگ ولایت، سیدآباد ولسوالۍ په باغک کلي کې زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په خپل کلي کې د مسجد له امام څخه پیل کړې. وروسته یې بیا خپلو دیني او عصری زده کړو ته دوام ورکړ. په ۱۳۹۱ کال کې د باغک له عالي لیسې څخه فارغ شوی او په همدې کال د کانکور ازموینې له لارې د سیدجمال الدین افغان پوهنتون، د شرعیاتو پوهنځي، د اسلامي تعلیماتو څانگې ته بریالی شو او له همدې پوهنتون څخه په ۱۳۹۴ ه ش کال کې فارغ شو. له فراغت وروسته یې له خپل کلي سره نږدې د تعلیم القرآن په دیني مدرسه کې تر وړې

دورې پورې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ. ښاغلی عثمان په ۱۴۰۱ه ش کال کې دآزاد رقابت له لارې د وردګ پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي تعلیماتو څانګې د علمي کادر غړیتوب ترلاسه کړ. عثمان په وردګ پوهنتون کې د ندې پرمهال د شرعیاتو پوهنځي مرستیال و او په ۱۴۰۳ کال کې د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون، د اسلامي تعلیماتو پوهنځي د تفسیر څانګې ماستري برنامې ته معرفي شو، چې تر دې مهاله په خپله زده کړو بوخت دی.

## د نوماند پوهنیار محمد زبیر بدري لنډه پېژندنه

نوماند پوهنیار محمد زبیر بدري د قاضي ورشمین زوی په ۱۳۷٦ ه ش کال وردګ ولایت چک ولسوالۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې. لومړنۍ زده کړې یې د خپل پلار څخه او ثانوي زده کړې یی په ۱۳۹۳ ه ش کال کې په شهادت دارالعلوم کې بشپړې کړې دي، په ۱۳۹۸ ه ش کال کې د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي فقه او قانون څانګې څخه د لیسانس په کچه فارغ شو. په ۱۴۰۰ ه ش کال کې یې په جامعة الاحناف کابل کې تر وړې (عالیه) دورې او په ۱۴۰۳ه ش کال کې یې د میدان وردګ ولایت په جهادي مدرسه کې لویه (عالمیة) دوره بشپړه کړې ده. د ۱۴۰۰ه ش، نه تر ۱۴۰۲ه ش کال پورې د مرکز کابل په تخنیکي او مسلکي زده کړو مستقله اداره کې د ( د ولایتي چارو د انسجام کارپوه) په بست کې دنده ترسره کړې او په ۱۴۰۲ کال کې یې د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د شرعیاتو پوهنځي د فقه قانون څانګې د علمي کادر غړیتوب ترلاسه کړ.

## د نوماند پوهنیار ضیاءالحق فاروق لنډه پېژندنه

ضیاءالحق "فاروق" د حبیب الرحمن زوی د سرمعلم گل محمد خان لمسی چې په ۱۳۷۷ لمریز کال د وردگ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د شنیز درې په مملو کلي کې زیږیدلی دی، خپلې لومړنۍ زده کړې یې د خپل کور او مسجد څخه شروع کړې. په ۱۳۹٦ لمریز کال کې د هلمند ولایت د مرکزي دارالحفاظ څخه فارغ شو چې ترڅنک یې قرآنکریم حفظ کړ او تر رابعې درجې پورې یې دیني کتابونه هم ویلي، د ۱۳۹٦ لمریز کال په کانکور ازموینه کې د کندهار پوهنتون، شرعیاتو پوهنځي ته کامیاب او په ۱٤۰۰ لمریز کال کې د لیسانس په کچه ترې فارغ شو. ښاغلي فاروغ د لیسانس زده کړو تر څنک د کندهار د نورالمدارس په جامعه کې تر وړې دورې پورې زده کړې بشپړې کړې دي. په ۱٤۰۲ لمریز کال کې د افغان نړیوال اسلامي پوهنتون، د شرعیاتو پوهنځي اړوند د اسلامي اقتصاد او پانکوالۍ څانکې ته شامل شو چې خوشبختانه په همدې کال د وردگ پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي، په فقه او قانون دیپارتمنت کې د آزاد رقابت له لارې د علمي کادر د غړي به توگه مقرر شو.

## د پوهنیار سید عمر نعیمي لنډه پېژندنه

پوهنیار سیدعمر نعیمي د حاجي سیداکبر زوی د وردگ ولایت سیدآباد ولسوالۍ د عبدالمحی الدین کلي اوسیدونکی دی، ۱۳۵۳ه ش کې زیږېدلی، لومړنۍ زده کړې یې د عبدالمحی الدین کلي په دیني مدرسه کې ترسره کړې او ثانویه زده کړې یې د منطقې په مختلفو مدارسو کې د جیدو علماوو څخه

ترلاسه کړې دي. ښاغلی نعیمي هم پاکستان مهاجرت کړی او د زده کړو وړه دوره یې په پاکستان کې بشپړه کړې ده. له مهاجرت څخه تر راګرځېدو وروسته یې په کابل کې د لوېې دورې زده کړې پیل کړې او په ۱۳۸۰ کال کې د کابل فاروقیه جامعې څخه د لوېې دورې سند تر لاسه کړ. نعیمي په ۱۴۰۳ کال کې د آزاد رقابت له لارې د وردګ پوهنتون، د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي ثقافت په څانګې د علمي کادر غړیتوب تر لاسه کړ.

## د پوهنیار حشمت الله راشد لنډه پېژندنه

نوماند پوهنیار حشمت الله راشد د انورخان زوی، په ۱۳۷۴ کال کې په لوګر ولایت کې نړۍ ته سترګې غړولې، لومړنۍ زده کړې یې د خپل مرحوم پلار څخه ترسره کړې دي، او پاتې زده کړې یې په محمدیه جامعه کې بشپړې کړې دیړ د دې ترڅنګ په ۱۳۹۲ کې د پادخواب روغني عالی لیسې څخه فارغ شوی، په ۱۳۹۷ کال کې یې د ننګرهار پوهنتون له شرعیاتو پوهنځي څخه د لسانس په کچه د فراغت سند تر لاسه کړ او ماستري یې په ۱۴۰۰ کال کې په ننګرهار پوهنتون کې بشپړه کړه، ښاغلی راشد اوس مهال د وردګ پوهنتون، د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې د علمي کادر غړی دی.

## د نوماند پوهنیار زاهدالله روحاني لنډه پېژندنه

نوماند پوهنیار زاهدالله روحاني د سالم جان زوی په۱۳۷۹ ه ش کال وردګ ولایت کې نړۍ ته سترګې پرانستي. لومړنی زده کړې یی د خپل پلار څخه او ثانوي زده کړې یی په ۱۳۸٦ه ش کال کی د حضرت عبدالله ابن مسعود

)رض( په دینی مدرسه کی تر څلورمی درجی بشپړې کړې دي، وروسته د پاکستان هیواد هریپور سوبی د حضرت عبدالله ابن مسعود ض په دینی مدرسه کی یی پنځمه درجه بشپړه کړه وروسته یی د کابل ولایت ارغندی انوارالعلوم مدرسه کی وړه دوره ترسره کړه او لویه دوره می په کال ۱۴۴۲ ه ق کال کی د پاکستان هیواد د جامعة الروح المدارس روحانیه کی ترسره کړه.

## د شرعیاتو پوهنځي څانګې

### ۱ـ د فقه او قانون څانګه

د فقه او قانون څانګه د شرعیاتو پوهنځي سره هم مهاله په ۱۴۰۱هـ ش کال کې تأسیس شوه، نوموړې څانګه اوس مهال د کامل رشد او پرمختګ په حالت کې قرار لري، اوس مهال ۹۴ تنه محصلین پکې په زده کړو بوخت دي.

نوموړې څانګه ۵ تنه برحاله استادان لري، چې د شرعیاتو پوهنځي د فقه او قانون، اسلامي تعلیماتو برنامو او د نورو پوهنځیو په صنفونو کې د اسلامي ثقافت اړوند مضامین تدریس کوي.

### لرلید

د فقه قانون څانګه د خدمت په موخه عدلي، قضائي او تعلیمي ادارو لپاره متخصص او وړ کادرونه روزي، ترڅو دین ،هېواد او هېوادوالو ته د خدمت مصدر شي او د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه د شرعي علومو د تخصص په برخه کې په نړیوالو معیارونو برابر معتبر علمي مرکز وګرځي.

### رسالت

د فقه او قانون څانګه د خپل ټاکل شوي کریکولم په رڼا کې د مسلکي او تجربه لرونکو استادانو په وسیله تدریس کوي، کوښښ کوي چې په علمي، عدلي او قضائي برخو کې د متخصصو او متعهدو کادرنو د روزنې او په دې برخه کې د علمي څېړنو سرته رسولو له لارې په ټولنه کې خپل نقش او رول آدا کړي.

**موخې:**

۱ـ د قرآن کریم،نبوي احادیثو، فقهې او اړونده علومو او اصولو مسلکي زده کړه او د اساسي مصادرو پیژندنه.

۲ـ ټولنې ته د تقنین، قضاء او افتاء په برخه کې د یوې قوي، دیني مرجع په توګه ژمن مسلکي کادرونه وړاندې کول.

۳ـ د توحید د صحیح عقیدې او نبوي سیرت زده کړه او په جامعه کې یې د عملي کولو لپاره کار کول.

۴ـ په نړۍ کې د مختلفو ادیانو پېژندنه او د انحرافاتو بیان، د اسلام د مقدس دین د مصادرو په وړاندې د نورو ډلو د دریځ بیان او دهغو د شبهاتو له منځه وړل.

۵ـ د دیني مقدساتو څخه دفاع کول.

**ارزښتونه:**

د فقه او قانون څانګې ځینې مهم ارزښتونه په لاندې ډول ذکر کېږي.

*- دیني او ملي ارزښتونو ته ځانګړې توجه کول.

*- په زده کړه او خدماتو کې لا زیات ښه والی.

*- تعلیمي،اداري او مالي استقلالیت


*- په تعلیمي او اداري چارو کې شفافیت او عدالت

*- څېړنو او نوښتونو ته خاص پام کول.

## د فقه او قانون ځانګې د استادانو شمېر

| ګڼه | د بست ډول | تشکیل | موجود | | کمبود | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | استادان (کادري) | ۵ | ۵ | ۰ | ۰ | ۵ |

## د فقه قانون ځانګې د علمي هیئت د پېژندګلوی ډیاګرام



## ۲ـ د اسلامي تعلیماتو څانګه

د اسلامي تعليماتو څانګه هم د شرعياتو پوهنځي سره هم مهاله په ۱۴۰۱هـ ش کال کې تأسیس شوه، نوموړې څانګه اوس مهال د کامل رشد او پرمختګ په حالت کې قرار لري، اوس مهال ۹۱ تنه محصلين په کې په زده کړو بوخت دي.

نوموړی ډیپارټمنټ ۴ تنه برحاله استادان لري، چې د شرعياتو پوهنځي داسلامي تعليماتو، فقه او قانون، برنامو او د نورو پوهنځيو په صنفونو کې د اسلامي ثقافت اړوند مضامين تدريس کوي.

## لرليد

د اسلامي تعليماتو څانګه د خدمت په موخه عدلي، تعليمي ادارو او تأسيساتو لپاره متخصص او مسلکي کادرونه روزي، ترڅو په واقعي توګه دين، هېواد او هېوادوالو ته دخدمت مصدر او د شرعي علومو د تخصص په برخه کې په نړیوالو معيارونو برابر علمي مرکز وګرځي.

## رسالت

د اسلامي تعليماتو څانګه د هېواد په کچه یوه منل شوې  څانګه ده او د خپلې ټولنې د پرمختګ لپاره علمي څېړنو ته لار هواروي، د اسلامي تعليماتو څانګه دې ته ژمنه ده چې د اړتيا سره سم داسې  کادرونه وروزي ترڅو ټولنې ته ښه خدمات وړاندې کړي.

## موخې

۱. د قرآن کریم، نبوي احادیثو او اړونده علومو او اصولو مسلکي زده کړه او د اساسي مصادرو پیژندنه.

۲ـ د توحید د صحېحې عقیدې پیژندنه او خپراوی.

۳ـ د نبوي صحیح سیرت زده کړه او په ژوند کې يې عملي کول.

۴ـ په نړۍ کې د مختلفو ادیانو پېژندنه او د انحرافاتو بیان.

۵ـ د اسلام د مقدس دین د مصادرو په وړاندې د نورو ډلو د دریځ بیان او د هغو د شبهاتو له منځه وړل.

٦ـ د اسلامي اوشرعي اصولو په رڼا کې د خپلو دیني مقدساتو څخه دفاع کول.

## ارزښتونه

د اسلامي تعلیماتو څانګې ځینې مهم ارزښتونه په لاندې ډول ذکر کوو.

*- دیني او ملي ارزښتونو ته ځانګړې توجه کول.

*- په زده کړه او خدماتو کې لا زیات پرمختګ او ښه والی رامنځته کول.

*- د اسلام د سپېڅلي دین دټولو لارښوونو رعایت کول.

*- د اسلامي شریعت د اصولو رعایت او د هرډول تعصب مخنیوی.

*- تحقیق او نوښتونو ته خاص پام کول.

## د اسلامي تعلیماتو ځانګې آمریت :

د اسلامي تعلیماتو ځانګې آمریت وخت په وخت له علمي اداري او تدریسي چارو څخه لیدنه او ارزونه کوي او په خپل وخت اړونده مشکلاتو او ضرورتونو ته رسیدګي کوي.

## د اسلامي تعلیماتو ځانګې د استادانو شمیر

| ګڼه | د بست دول | تشکیل | موجود | | کمبود | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | نارینه | ښځینه | | |
| ۱ | استادان (کادري) | ۵ | ۴ | ۰ | ۱ | ۵ |

## د اسلامي تعلیماتو ځانګې د أکاډمیک هیئت د پېژندګلوی ډیاګرام

د ځانګې آمر

نوماند پوهنیار فرید الله وحدت

شیخ مولوي صفت الله حقاني
استاد

نوماند پوهنیار انعام الله حنیف
استاد

نوماند پوهنیار عبداللطیف عثمان
استاد

## د محصلینو شمېر

### د فقه او قانون څانګې د محصلینو شمېر

| لومړی | دویم | دریم | ټول ټال |
|---|---|---|---|
| ۵۲ | ۳۱ | ۱۱ | ۹۴ |

### د اسلامي تعلیماتو څانګې د محصلینو شمېر

| لومړی | دویم | دریم | ټول ټال |
|---|---|---|---|
| ۴۹ | ۳۴ | ۸ | ۹۱ |

### د شرعیاتو پوهنځي د دواړو څانګو ټول ټال د محصلینو شمېر

| لومړی | دویم | دریم | ټول ټال |
|---|---|---|---|
| ۱۰۱ | ۶۵ | ۱۹ | ۱۵۵ |

### د شرعیاتو پوهنځي د علمي برنامې څخه د فارغ التحصیل تعریف

د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې اړوند د شرعیاتو پوهنځی د افغانستان د محکمو، څارنوالی، وکالت، افتاء او د مرکز او ولایتونو د شرعیاتو پوهنځیو او دیني جامعاتو او مدارسو لپاره د متخصصو او مسلکي کادرونو د روزنې په موخه ایجاد شوی دی، په همدې اساس د فقه او قانون او اسلامي تعلیماتو علمي برنامې هغه شخص د خپل فارغ التحصیل  په صفت پېژني چې ۱۳٦ -۱۴۰ کریډیټونه په یوه تحصیلي دوره کې چې د ورځې لخوا په څلور کالونو او اتو ۸

سمسترونو کې پوره کړي او د پوهې مهارتونو او سلوک (کړنو) په برخه کې د لاندې شرطونو درلودونکی وي:

**۱- د پوهې او علم په برخه کې**: د شرعیاتو پوهنځي فارغ التحصیل باید په دې وتوانېږي چې د لیسانس په کچه د فقهې او قانون او اسلامي تعلیمات اړوند دینی موضوعاتو پر تحلیل او پرتله، صورت دعوی او دفاعیې جوړلو پر موضوعاتو باندې حاکم وي، په شرعي، فقهي، قضایي، تقنیني،افتاء او دیني علومو پر تدریس تسلط ولري، تر څو په دې وتوانېږي چې د شرعي علومو د متخصص په صفت په ټولنه کې کار وکړي.

**۲- د مهارتونو په برخه کې:** د شرعیاتو پوهنځي فارغ التحصیل هغه شخص دی چې حد اقل په یوه بهرنۍ ژبه تسلط ولري، ښه مدیریت، صورت دعوی او دفاعیې جوړولو ، شرعي علومو کې د تحقیق، تدریس او نورو ښوونیزو پروګرامونو سره بلدتیا ولري او په دې برخه کې د خپلو ستونزو د حل وړتیا ولري.

**۳- د کړنو او چلند په برخه کې**: د شرعیاتو پوهنځي فارغ التحصیل هغه شخص دی چې د تخصصي او مسلکي مضامینو فقهې مسائلو او اصولو ته په احترام، علمي اصولو په رعایتولو، د اسلامي، انساني او اخلاقي ارزښتونو په نظر کې نیولو سره یې تر لاسه کړي، ټولو دغو ارزښتونو ته ژمن او د هر ډول تبعیض او تعصب څخه پاک وې.

## امکانات او زېربنا

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو علمي خدماتو ترسره کولو لپاره د تدرېس او اداري خونو له کمبود سره مخ ده، چې فعلا  د شرعیاتو په شمول زیاتره پوهنځي تدریسي او په ځانګړې ډول اداري چارې د ښوونې او روزنې په تعمیر کې مخ ته وړي. دا چې یاده پوهنځی نوی دی، مستقل امکانات نه لري او له هغه امکاناتو څخه استفاده کوي چې د یادې مؤسسې په سطحه په واک کې ورکول شوي دي. د مؤسسې په سطحه زرغونې ساحې لکه چمنونه، د مڼو ، بادامو، شفتالو نمونوي باغونه لرې، یاده مؤسسه کتابخانه هم لری چې د شرعیاتو پوهنځي اړوند کتابونه هم په کې شتون لري، همدارنګه مجهز کمپیوټر لېب او نور وسایلو شتون لري، یاد پوهنځی حقوقې کلینیک او د تمثیلي محکمو خونې او ځینې نور تجهیزات نه لري چې په راتلونکې کې به یې د منظورۍ او لاسته راوړلو لپاره هڅه وشې. د شرعیاتو پوهنځي، اړونده څانګې، رهبري او استادان د ښه احساس او ظرفیت په لحاظ په ښه موقف کي قرار لري، د تدریس د ښه او مؤثر تمامېدو په موخه بېلابېل فزیکي او تدریسي امکانات لري.

## د شرعیاتو پوهنځي درسي صنفونه

شرعیاتو پوهنځی په الکترونیکي او عصري وسایلو باندې سمبال صنفونه لري.



## کتابتون

وردگ لوړو زده کړو مؤسسه عامه کتابتون لري چې د نورو پوهنځیو په شمول د شرعیاتو پوهنځي اړوند کتابونه هم په زیاته توگه په کې موجود دي او محصلین او استادان ورڅخه استفاده کوي.



## کمپیوټر لب

یاده مؤسسه عامه کمپیوټر لب لري چې په عصري وسایلو او انټرنیټ سمبال دی او د شرعیاتو پوهنځي محصلین ترې استفاده کوي.



**مسجد**

د ذکر شوي مؤسسې په ساحه کې لوی جومات شتون لري چې د دعوت اوارشاد آمریت یې د امامت، خطابت، ارشاد او دعوت او دیني علومو حلقې د شرعیاتو پوهنځی استادانو سره په همغږۍ سره مخته وړي.



**بریښنا**:  یاده مؤسسه د لمریزې او غیر لمریزې بریښنا څخه برخمنه ده  چې د غیر لمریزې (عمومي) بریښنا د نشتون په وخت کې له لمریزې بریښنا څخه استفاده کوي.



# د شرعياتو پوهنځي مضامين او کريکولم

## د فقه قانون څانګې اړوند مضامين

| شماره | مضمون | کود نمبر IL | د مضمون نوعيت | تعداد کريډت | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| | کال (لومړی) سمستر (لومړی) | | | | |
| ۱ | الحفظ والتجويد (النصف الأخير من جزء ۳۰) | SL.IL.0 106 | اساسي | ۲ | |
| ۲ | العقيده (۱) (ألالهيات) | SL.IL.0 107 | اساسي | ۲ | |
| ۳ | الحديث (۱) | SL.IL.0 108 | اساسي | ۲ | |
| ۴ | فقه العبادات (۱) (الصلاة و الصيام) | SL.IL.0 109 | تخصصي | ۲ | |
| ۵ | تاريخ التشريع | SL.IL.0 110 | تخصصي | ۲ | |
| ۶ | السيرة (فقه السيرة) | SL.IL.0 111 | اساسي | ۲ | |
| ۷ | مبادي حقوق | SL.IL.0 112 | اساسي | ۲ | |
| ۸ | اللغة العربية (۱) (الصرف) | SL.IL.0 113 | اساسي | ۲ | |
| ۹ | چاپيريال ساتنه | SL.IL.0 102 | ټول شمول | ۱ | |
| ۱۰ | د افغانستان معاصر تاريخ | SL.IL.0 103 | ټول شمول | ۲ | |
| | ټول ټال | | | ۱۹ | |

| کال (لومړی) سمستر (دوهم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کوډ نمبر IL | نوعیت مضمون | تعداد کریډت | ملاحظات |
| ۱ | العقيد (۲) (النبوت) | SL.IL.0 207 | اساسي | ۲ | |
| ۲ | الحديث (۲) | SL.IL.0 208 | اساسي | ۲ | |
| ۳ | فقه العبادات (۲) (الزكات والحج) | SL.IL.0 209 | تخصصي | ۳ | |
| ۴ | فقه الأحوال الشخصية (۱) | SL.IL.0 214 | تخصصي | ۲ | |
| ۵ | علوم الحديث | SL.IL.0 215 | اساسي | ۲ | |
| ۶ | اساسي عمومي حقوق | SL.IL.0 216 | اساسي | ۲ | |
| ۷ | علوم القرآن | SL.IL.0 217 | اساسي | ۲ | |
| ۸ | اللغة العربية (۲) (قواعد النحو) | SL.IL.0 213 | اساسي | ۲ | |
| ۹ | المنطق القديم | SL.IL.0 218 | اساسي | ۲ | |
| ۱۰ | اسلامي تاريخ | SL.IL.0 219 | اساسي | ۲ | |
| تول تال | | | | ۲۱ | |

| کال (دوهم) سمستر (دريم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کوډ نمبر IL | نوعیت مضمون | تعداد کریډت | ملاحظات |
| ۱ | العقيد (۳) (السمعيات) | SH.IL.0 3.07 | اساسي | ۲ | |
| ۲ | التفسير (۱) | SH.IL.0 3.20 | اساسي | ۲ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٣ | أحاديث الأحكام (١) | SH.IL.03.21 | تخصصي | ٢ | |
| ٤ | فقه الأحوال الشخصية (٢) | SH.IL.03.14 | تخصصي | ٢ | |
| ٥ | أصول فقه (١) | SH.IL.03.22 | تخصصي | ٢ | |
| ٦ | حقوق الانسان في الاسلام | SH.IL.03.23 | اساسي | ٢ | |
| ٧ | انجليزية | SH.IL.03.04 | تول شمول | ٢ | |
| ٨ | حقوق العمل والتأمينات الاجتماعية | SH.IL.03.24 | تخصصي | ٢ | |
| ٩ | المنطق الجديد | SH.IL.03.25 | اساسي | ٢ | |
| ١٠ | اللغة العربية (٣) (قواعد النحو) | SH.IL.03.13 | اساسي | ٢ | |
| تول تال | | | | ٢٠ | |

## صنف (دوهم) سمستر (ثْلورم)

| شماره | مضمون | كود نمبر IL | نوعيت مضمون | تعداد كريدت | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | التفسير (٢) | SH.IL.04.20 | اساسي | ٢ | |
| ٢ | أحاديث الأحكام (٢) (المعاملات) | SH.IL.04.21 | اساسي | ٢ | |
| ٣ | فقه المعاملات (١) (البيوع) | SH.IL.04.26 | تخصصي | ٣ | |
| ٤ | فقه الجنايات (١) مقارناً بالقانون الجنائي العام | SH.IL.04.27 | تخصصي | ٢ | |
| ٥ | أصول فقه (٢) | SH.IL.04.22 | اساسي | ٢ | |
| ٦ | مقارنة الأديان | SH.IL.04.28 | اساسي | ٢ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | مبادئ الاقتصاد | SH.IL.04.29 | اساسي | ۲ | |
| ۸ | د اساسي قوانینو فقهي تخریج او تحلیل | SH.IL.04.30 | اساسي | ۱ | |
| ۹ | فقهي او عدلي مسلکي اخلاق | SH.IL.04.31 | اساسي | ۲ | |
| ۱۰ | اللغة العربية (۴) ( البلاغة) | SH.IL.04.13 | اساسي | ۲ | |
| | ټول ټال | | | ۱۹ | |

| کال (دریم) سمستر (پنځم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IL | د مضمون نوعیت | تعداد کریډت | ملاحظات |
| ۱ | تفسير آيات الأحكام (۱) (أحكام القرآن للتهانوي) | SH.IL.05.20 | تخصصي | ۳ | |
| ۲ | أحاديث الأحكام (۳) سنن الترمذي | SH.IL.05.21 | تخصصي | ۳ | |
| ۳ | فقه المعاملات (۲) التوثيقات | SH.IL.05.26 | تخصصي | ۲ | |
| ۴ | فقه الجنايات (۲) (مقارناً بالقانون الجنايي الخاص) | SH.IL.05.27 | تخصصي | ۲ | |
| ۵ | علم الميراث (۱) | SH.IL.05.32 | تخصصي | ۲ | |
| ۶ | أصول فقه (۳) (كتاب الله والسنة) | SH.IL.05.22 | اساسي | ۲ | |
| ۷ | الفرق والمذاهب | SH.IL.05.33 | اساسي | ۲ | |
| ۸ | الغزو الفكري | SH.IL.05.34 | اساسي | ۲ | |
| ۹ | النظريات الفقية (الحق والالتزام والملكية) | SH.IL.05.35 | تخصصي | ۲ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | انتخابي | SH.IL.0 5… | انتخابي | ۱ | |
| تول ټال | | | | ۲۱ | |

| د فقه قانون څانګې پنځم سمستر د انتخابي مضامینو لیست | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IL | د مضمون نوعیت | تعداد کریډت | ملاحظات |
| ۱ | نړیوال عمومي حقوق | SH.IL.0 5.36 | انتخابي | ۱ | |
| ۲ | کریمینالوژي (جرم پیژندنه) | SH.IL.0 5.37 | انتخابي | ۱ | |

| کال (دریم) سمستر (شپږم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IL | د مضمون نوعیت | تعداد کریډت | ملاحظات |
| ۱ | تفسیر آیات الأحکام (۲) (روائع البیان) | SH.IL.6 20 | تخصصي | ۳ | |
| ۲ | أحادیث الأحکام (۴) سنن ابي داؤد | SH.IL.6 21 | تخصصي | ۳ | |
| ۳ | فقه المعاملات (۳) (وسائل الاثبات) | SH.IL.6 26 | تخصصي | ۲ | |
| ۴ | علم المیراث (۲) | SH.IL.6 32 | تخصصي | ۲ | |
| ۵ | أصول فقه (الاجماع و القیاس) | SH.IL.6 22 | اساسي | ۲ | |
| ۶ | فقه الشرکات | SH.IL.6 37 | تخصصي | ۲ | |
| ۷ | أصول محاکمات | SH.IL.6 38 | تخصصي | ۲ | |
| ۸ | النظام السیاسي في الاسلام | SH.IL.6 39 | اساسي | ۲ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | انتخابي | SH.IL.6.<br>. | انتخابي | ۱ | |
| تول ټال | | | | ۱۹ | |

| د فقه قانون څانګې شپږم سمستر د انتخابي مضامينو ليست | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کـود نمبر IL | د مضمون نوعيت | تعـداد کـريـدت | ملاحظات |
| ۱ | القانون الدولي الخاص | SH.IL.6<br>40 | انتخابي | ۱ | |
| ۲ | فقهي ليکنه | SH.IL.<br>641 | انتخابي | ۱ | |
| ۳ | کريمنالستيک (جرم موندنه) | SH.IL.6<br>42 | انتخابي | ۱ | |

## د اسلامي تعليماتو څانګې اړوند مضامين

| کال (لومړی) سمستر (لومړی) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IS | د مضمون نوعيت | تعداد کريډت | ملاحظات |
| ۱ | الحفظ والتجويد (النصف الأخير من جزء ۳۰) | SL.IS.0 106 | تخصصي | ۲ | |
| ۲ | العقيده (۱) (ألالهيات) | SL.IS.0 107 | تخصصي | ۲ | |
| ۳ | الحد يث (۱) (العبادات) | SL.IS.0 108 | تخصصي | ۳ | |
| ۴ | فقه العبادات (۱) (الصلاة و الصيام) | SL.IS.0 109 | تخصصي | ۲ | |
| ۵ | تاريخ التشريع | SL.IS.0 110 | اساسي | ۲ | |
| ۶ | علوم الحديث(۱) (مصطلحات) | SL.IS.0 111 | اساسي | ۲ | |
| ۷ | السيرة (فقه السيرة) | SL.IS.0 112 | اساسي | ۲ | |
| ۸ | مبادي حقوق | SL.IS.0 113 | اساسي | ۲ | |
| ۹ | اللغة العربية (۱) (قواعد الصرف) | SL.IS.0 114 | اساسي | ۲ | |
| ۱۰ | د افغانستان معاصر تاريخ | SL.IS.0 103 | ټول شمول | ۲ | |
| ټول ټال | | | | ۲۱ | |

| **کال (لومړی) سمستر (دوهم)** | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IS | نوعیت مضمون | تعداد کریدت | ملاحظات |
| ۱ | العقید (۲) (النبوات) | SL.IS.0 207 | تخصصي | ۲ | |
| ۲ | التفسير(۱) | SL.IS.0 215 | تخصصي | ۳ | |
| ۳ | الحديث (۲) (العبادات) | SL.IS.0 208 | تخصصي | ۲ | |
| ۴ | فقه العبادات (۲) (الزكات والحج) | SL.IS.0 209 | تخصصي | ۲ | |
| ۵ | علوم القرآن | SL.IS.0 216 | تخصصي | ۲ | |
| ۶ | علوم الحديث (۲) (القواعد والآداب) | SL.IS.0 211 | تخصصي | ۲ | |
| ۷ | المنطق القديم | SL.IS.0 217 | اساسي | ۲ | |
| ۸ | اساسي عمومي حقوق | SL.IS.0 218 | اساسي | ۲ | |
| ۹ | اللغة العربية (۲) (قواعد النحو) | SL.IS.0 214 | اساسي | ۲ | |
| ۱۰ | اسلامي تاريخ | SL.IS.0 219 | اساسي | ۲ | |
| | تول ټال | | | ۲۱ | |

| كال (دوهم) سمستر (درېيم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | كود نمبر IS | نوعيت مضمون | تعداد كريدت | ملاحظات |
| ١ | العقيدة (٣) (السمعيات) | SH.IS.0 3.07 | تخصصي | ٢ | |
| ٢ | التفسير (٢) | SH.IS.0 3.15 | تخصصي | ٣ | |
| ٣ | الحديث (٣) | SH.IS.0 3.08 | تخصصي | ٣ | |
| ۴ | فقه الأحوال الشخصية (١) | SH.IS.0 3.20 | تخصصي | ٢ | |
| ۵ | اصول الفقه (١) | SH.IS.0 3.21 | اساسي | ٢ | |
| ۶ | المنطق الجديد | SH.IS.0 3.22 | اختياري | ٢ | |
| ٧ | مقارنة الاديان | SH.IS.0 3.23 | اساسي | ٢ | |
| ٨ | اللغة العربية (٣) (قواعد النحو) | SH.IS.0 3.14 | اساسي | ٢ | |
| ٩ | چاپريال ساتنه | SH.IS.0 3.02 | ټول شمول | ٢ | |
| ١٠ | انجليزية | SH.IS.0 3.04 | ټول شمول | ٢ | |
| ټول ټال | | | | ٢٢ | |

| صنف (دوهم) سمستر (څلورم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | كود نمبر IS | نوعيت مضمون | تعداد كريدت | ملاحظات |
| ١ | التفسير (٣) | SH.IS.0 4.15 | اساسي | ٣ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٢ | الحديث(٤) | SH.IS.04.08 | تخصصي | ٣ | |
| ٣ | فقه الاحوال الشخصية (٢) | SH.IS.04.20 | تخصصي | ٢ | |
| ٤ | فقه المعاملات (١) (البيوع) | SH.IS.04.24 | تخصصي | ٢ | |
| ٥ | أصول الفقه (٢) | SH.IS.04.21 | اساسي | ٢ | |
| ٦ | النظام السياسي فى السلام | SH.IS.04.25 | تخصصي | ٢ | |
| ٧ | الفرق و المذاهب | SH.IS.04.26 | اساسي | ٢ | |
| ٨ | كمپيوتر | SH.IS.04.05 | ټول شمول | ٢ | |
| ٩ | فقهي او عدلي مسلكي اخلاق | SH.IS.04.27 | اساسي | ٢ | |
| ١٠ | اللغة العربية (٤) ( البلاغة) | SH.IS.04.14 | اساسي | ٣ | |
| ټول ټال | | | | ٢٣ | |

| کال (درېیم) سمستر (پنځم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IS | د مضمون نوعیت | تعداد کریډت | ملاحظات |
| ١ | التفسير(٤) | SH.IS.0515 | تخصصي | ٣ | |
| ٢ | الحديث (٥) (سنن ابن ماجه منتخبات) | SH.IS.0508 | تخصصي | ٣ | |
| ٣ | فقه المعاملات (٢) (البيوع) | SH.IS.05024 | تخصصي | ٢ | |
| ٤ | النظريات الفقهية (الحق والالتزام والملكية) | SH.IS.0528 | تخصصي | ٢ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٥ | أصول الفقه (٣) (كتاب الله و السنة) | SH.IS.0 521 | اساسي | ٢ | |
| ۶ | النظام المالي والاقتصادي في الاسلام | SH.IS.0 529 | اساسي | ٢ | |
| ٧ | النظام الاداري في الاسلام | SH.IS.0 530 | تخصصي | ٢ | |
| ٨ | علم الكلام الجديد | SH.IS.0 531 | اساسي | ٢ | |
| ٩ | اللغة العربية(٥) (البلاغة) | SH.IS.0 514 | اساسي | ٢ | |
| ١٠ | انتخابي | SH.IS.0 5… | انتخابي | ١ | |
| | ټول ټال | | | ٢١ | |

| د اسلامي تعليماتو څانګې پنځم سمستر د انتخابي مضامينو ليست | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IS | د مضمون نوعيت | تعداد کريډت | ملاحظات |
| ١ | نړيوال عمومي اوخصوصي حقوق (مذكره) | SH.IS.0 532 | انتخابي | ١ | |
| ٢ | مبادئ الفلسفة وتاريخها | SH.IS.0 533 | انتخابي | ١ | |

| کال (دريیم) سمستر (شپږم) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | مضمون | کود نمبر IS | د مضمون نوعيت | تعداد کريډت | ملاحظات |
| ١ | التفسير (٥) | SH.IS.0 615 | تخصصي | ٣ | |
| ٢ | الحديث (۶) (سنن النسائي منتخبات) | SH.IS.0 608 | تخصصي | ٣ | |
| ٣ | الفقه (وسائل الاثبات في الفقه والقانون) | SH.IS.0 634 | تخصصي | ٣ | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | أصول الفقه (۴) (الاجماع و القياس) | SH.IS.0 621 | اساسي | ۲ | |
| ۵ | أصول التفسير | SH.IS.0 635 | اساسي | ۲ | |
| ۶ | أصول التخريج ودراسة الأسانيد | SH.IS.0 636 | اساسي | ۲ | |
| ۷ | اللغة العربية(۶) (النحو) | SH.IS.0 614 | اساسي | ۲ | |
| ۸ | دور المسلمين في حضارة العالم (الفكر الاسلامي) | SH.IS.0 637 | اساسي | ۲ | |
| ۹ | انتخابي | SH.IS.0 6.. | انتخابي | ۲ | |
| تول ټال | | | | ۲۱ | |

## د اسلامي تعليماتو څانګي شپږم سمستر د انتخابي مضامينو ليست

| شماره | مضمون | کود نمبر IS | د مضمون نوعيت | تعداد کريدت | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | دافغانستان اسلامي إمارت دعدلي محکمودإداري اوحقوقي اجراءاتو أصول نامې | SH.IS.0 638 | انتخابي | ۱ | |
| ۲ | جرم پژندنه | SH.IS.0 639 | انتخابي | ۱ | |
| ۳ | طب عدلي | SH.IS.0 640 | انتخابي | ۱ | |

## لړلیک

سریزه: .................................... 2
د شرعیاتو پوهنځي د رئیس پیغام ............................ 3
د شرعیاتو پوهنځي تاریخچه ........................... 4
لرلید: ........................................ 7
رسالت:........................................ 7
موخې: ........................................ 7
امکانات: ........................................ 8
د شرعیاتو پوهنځي د رئیس لنډه پېژندنه .................... 9
د شرعیاتو پوهنځي د استادانو لنډه پېژندنه .................. 10
۱ـ د فقه او قانون څانګه ...............................21
لرلید ........................................ 21
رسالت........................................ 21
موخې: ........................................ 22
ارزښتونه: ........................................ 22
د فقه او قانون څانګې د استادانو شمېر .........................23

د فقه قانون ځانګې د علمي هیئت د پېژندګلوی ډیاګرام ......23
۲ـ د اسلامي تعلیماتو ځانګه ..................................24
لرلید ..........................................................24
رسالت..........................................................24
موخې ..........................................................25
ارزښتونه ......................................................25
د ځانګې آمریت : ............................................26
د اسلامي تعلیماتو ځانګې د استادانو شمیر..................26
د اسلامي تعلیماتو ځانګې د أکاډمیک هیئت د پېژندګلوی
ډیاګرام..........................................................26
26 ...............................................................
د محصلینو شمېر............................................. 27
د فقه او قانون ځانګې د محصلینو شمېر .....................27
د اسلامي تعلیماتو ځانګې د محصلینو شمېر..................27
د شرعیاتو پوهنځي د دواړو ځانګو ټول ټال د محصلینو شمېر .27

د شرعیاتو پوهنځي د علمي برنامې څخه د فارغ التحصیل
تعریف ........................................................27
امکانات او زېربنا ........................................... 29
د شرعیاتو پوهنځي درسي صنفونه .............................30
کتابتون .......................................................31
کمپیوټر لب ...................................................32
مسجد .........................................................33
د شرعیاتو پوهنځي مضامین او کریکولم ......................... 35
د فقه قانون څانګې اړوند مضامین ...........................35
د اسلامي تعلیماتو څانګې اړوند مضامین......................41